# السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

## د سمینار ټولو ګډونوالو ښه راغلاست

## موضوع

**د دروند ولسمشر جناب دکتور محمداشرف غني د سولې لار نقشې تر عنوان لاندې د ارایه شوې طرحې په اړه وضاحت.**





وړاندې کوونکی: استاد محمدعالم صافی

# هغه مسایل چې دلته به پرې بحث وشي





1. د سمینار له وړاندې کولو څخه زما موخه.
2. د سولې لارې د نقشې موخې.
3. اساسي پوښتنه.
4. زمونږ د اړتیا واضح کول (سریزه)
5. ټریوالو ته د اعتماد د جلب په موخه څېنې یادونې
6. موجود فرصتونه.
7. مونږ باید څه وکړو ؟
8. مقابل جهت باید څه وکړي ؟
9. د تېرې دورې لاسته راوړنې چې باید وساتل شي
10. ټریوالې هڅې
11. د سولې پُل
12. د پُل ابعاد
13. د سولې د حکومت دوام او پایې
14. وړاندیزونه

# د سمینار موخه



1. د ولسمشر د سولې لارې نقشې د ترتیب شوې طرحې څخه د وګړو خبرول
2. د یادې طرحې د قوت او ضعف نقاط رابرسېره کول.
3. او د ولسمشر سره د په یاده برخه کې د مرستې په توګه د سالمو نظریاتو شریکول

# د سولې لارې د نقشې موخې








1. تفرقه افگنو مسایلو ته د پای ټکي ایښودل.
2. سیاسي هوکړې او سوله ایز حکومت رامینځته کېدل.
3. دولت جوړونې په موخه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت لیدلوری او ژمنتیاوې واضح کول.
4. د اساسي قانون او اساسي حقوقو او لاسته راوړنو څخه دفاع او ساتنه.
5. خپلواک، سوکاله، په ځان بسیا، یو موټی او بې پرې افغانستان رامیځته کول.

# د طرحې اساسي پوښتنه

**کوم شرایط باید برابر شي تر څو د خپلواک، سوله اییز، ولسواک، بې پرې او یو موټي افغانستان رامینځته کېدو ته زمینه برابره شي؟**








# سریزه

د هر څه د مخه درته د دریو اساسي نقاطو څخه یادونه کوم.

افغانستان نه یوازې د اسیا بلکې د نړۍ زړه او بام دی، چې تل یې د خپل بارز اوځرګند سوق الجیشي موقعیت د درلودلو له کبله د ختیځو او لودیځو زبر ځواکونو او حتیٰ متمدنه هېوادونو په زړونو او ذهنونو کې ځای نیولی دی.

دوهم ورځ تر بلې له نړۍ څخه د استعمار مفکوره په ورکېدو ده او ځای یې ارتباطاتو او اړیکو ته پرېښودل کېږي، ځکه هر څوک پدې پوهېږي چې پرمختګ په امن پورې تړلی دی او امن پرته له دې چې د بل په چارو کې له لاس وهنې لاس وانه خستل شي امکان نلري.

دریم دا چې د ثور د کرغېړنې کودتا راهیسې زمونږ له

ټولنې څخه د مغزونو د تېښتې سلنه او ګراف ورځ تر بلې

زیاتېده او لاپسې په مصیبتونو او کړاونو کې اخته کېدو

چې یواځینی اساسي لامل یې د سالم مدیریت نشتوالی او

له پردی اوږې د سپوږمۍ کتل ؤ او بس.










دا باید ومنو چې نن موږ د یو فعال او
سالم مدیر او مدیریت لرونکي یو، نور باید
راویښ شو څکه دا هغه مهال دی چې
باید له یا د فرصت او موقع تر لوړې کچې
ګټه واخلو، پدې سره به مو له یو اړخه
موجوده ناخوالو ته د پای ټکی ایښی وي
او له بل پلوه به مو خپلو ارماني اهدافو
ته د رسیدو په لار کې ټول موجود اغزي
تر ممکنه بریده لرې کړي او هیلې به مو
زیاتې شوې وي.



دا هغه فرصت دی چې باید یو بل ته
اوږه ورکړو او زمونږ په ټولنه کې چې
د سالمو اهدافو د حصول په موخه
هر څوک او له هرځایه ګام اخلي باید
کلک ملاتړ یې وکړو، چې په یاد
سمینار کې به په دغو سالمو اهدافو،
ګام اخیستلو او د ملاتړ په څرنګوالي
بحث وشي.



# نړیوالو د اعتماد د جلب په موخه ځینې یادونې

1. د منځنۍ اسیا او نړۍ د امنیت د ساتلو په موخه باید افغانستان کې د نړیوال تضمین تر چتر لاندې باثباته دولت شتون حتمي دی.
2. د بل په چارو کې له لاس وهنې په صورت کې سیمه اییز امنیت نشي رامینځته کېدای.



3. چې د افغانستان په سوله کې د ملګرو ملتونو رول ساری نلري. ځکه افغاني سوله د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې د ضمانت پرته امکان نلري.
4. په یوه سیاسي اقتصادي لویه وچه د اسیا د بدلېدو لپاره اړینه ده چې افغانستان هم خپلواک او باثباته واوسي.



# موجود فرصتونه



1. د سیمه ایزې اجماع شتون.
2. د نړیوال اسلامي سازمان د ملاتړ شتون.
3. د امریکا او نړیوالې ټولنې بې سارې هڅې تر څو دغې موضوع ته اساسي حل ومومي.
4. د شپږ کلنو هڅو په پایله کې سیمه ایزه اجماع هم رامینځته شوې او د ملګرو ملتونو د مؤسساتو سره هم همغږي رامینځته شوې ده.



# مونږ باید څه وکړو یا څه باید وشي:



1. ملي اجماع او د يوې سياسي اجماع رامينځته کول.
2. له واحد ادرسه غږېدل او د اختلافاتو له مينځه وړل د نړيوالو د اعتماد د لاسته راوړلو په موخه.
3. په ملي کچه بايد هم د علماؤ، ځوانانو، ښځو، مدني ټولنو، شوراګانو څخه ګټورې مشورې واخيستل شي چې تر يو بريده اخيستل شوي هم دي چې د مردم سالارۍ د اصل د قوت څرګندونه کوي.
4. په يوشتمه پېړۍ کې کلي اجماع امکان نلري مګر د سيمه ايزې او نړيوالې اجماع د باور تر لاسه کولو او ملي موقف د څرګندولو په موخه د ازاد بحث له لارې ملي اجماع رامينځته شي چې مظهر يې لويه جرګه ده. او د لويې جرګې د تشکيل او راټولېدو پرته ياده موخه نشي ترلاسه کيداي.



## مقابل جهت باید څه وکړي؟

1. د نړیوالو د باور او اعتماد څخه سالمه ګټه واخلي او خپلې موخې په واضحه او معقوله توګه بیان کړي.
2. باید د ملت د یوې کتلې په توګه راشي او د لویې جرګې په 52 ګونو کمېټو کې دې له ملت سره کښېني او یو بل ته دې قناعت ورکړي.
3. لویې جرګې په واسطه اساسي قانون رامینځته شوی دی او لویې جرګې له خوا به تغییر او بدلون مومي، فرمایشات دې نه کوي.
4. ملي ستونزې دې د نړیوالو په اعتماد حل کړي نه د کومې مشخصې مرجع په فکر.



# د تېرې دورې لاسته راوړنې چې باید وساتل شي

1. د ملګرو ملتونو د ټولنې د غوښتنې برعکس مو د خپل حیثیت او مشروعیت په موخه د چوکۍ د دوام په ځاي ټاکنې وکړې.
2. جنګ مو د بیارغونې مانع نه شو، سړکونه، پلونه، مکتبونه، بندونه او نهرونه مو هم جوړ کړل.
3. د ملکي ادارو 58 سلنه کارمندان مو ځوانان (له څلویښت کلنۍ ښکته) او پدې کې بیا دیرش سلنه ښځې تشکیلوي.
4. د دیني علماؤ د قوي منطق درلودلو او کارولو له وجې مو د نړیوالې اسلامي ټولنې ملاتړ ترلاسه کړ او د افغانستان جګړه یې نامشروع وبلله چې دا خپله د علماؤ د ملي فکر اجماع څرګندوي.
5. د نړۍ د پرمختللو هېوادونو (هند، چین، ایران...) سره نږدې یو او په اعتماد او باور مو دېرې سترې پروژې په کار اچولې دي یعنې نړیوالو ته مو په منطق قناعت ورکړی دی.



# نړیوالی هڅې




نن امریکا او د نړیواله ټولنه هم پدې هڅه کې ده چې د افغانستان موضوع ته د یوې بین المللي اجماع له لارې د حل لار پیدا کړي چې یو بې ساری گام یې اخیستی دی او د استقبال وړ دی. مگر دا هم باید ومنو چې تنها بهرني خالص نیتونه او اقدامات تر هغې گټه نلري چې له داخلي برخې مثبت عکس العمل او گامونه وا نه خیستل شي.

افغانستان نن په یو داسې حالت کې قرار لري چې دوامداره سولې ته د رسیدو په برخه کې یو تاریخي فرصت په لاس کې لري.

د افغانستان دولت او ملت باید له یاد فرصت څخه چې د ویالې بڼه لري د خپلو موخو د ترلاسه کېدو لپاره د سمندر پشان ګټه واخلي او په اساس یې ټولو ناخوالو، قربانیو او محرومیتونو ته د پای ټکی کېږدي.








د ګاونډیو هېوادونو، اسلامي نړۍ او نړیوالې ټولنې له لورې د ترسره شویو نیکو اقداماتو باید مننه وشي او په یاده برخه کې ترې لا هم کار واخیستل شي او وهڅول شي.

د دې تر څنګ باید د ملکي ادارو له کارمندانو هم ځانګړې مننه وشي چې په سختو شیبو کې یې هم د نظام د بقا او اصلاح کېدو په موخه کار کړی او لا هم لګیا دي.






سمه ده چې له جمهوریته به ګیله لرو، شکایتونه به لرو مګر مونږ ځان په جمهوریت کې وینو او دا هم باید و منو چې دا یو اسلامي هېواد دی او ارزښتونه مو هم اسلامي دي او دولت مو هم د افغانستان اسلامي جمهوري دولت دی نه یواځې د افغانستان جمهوریت.





دا اوسنۍ **روانه جګړه یوه اوږده او نامحدوده** جګړه ده او د ټولو زیانمنو سره مو همدردي شریکه ده، دا یو بې اصوله جنګ دی، په ټول تاریخ د افغانستان کې په جنګونو کې ښځې، ماشومان او بوډاګان په امن کې ول مګر نن ټول قرباني ورکوي.



دا ضرورت دی چې اوس د خپلو ارزښتونو، ښنسټونو او راتلونکو نسلونو څخه هم دفاع وکړو.



# د سولې پُل



مونږ ډېرې سرشاره اوبه لرو چې د دې نامهاره او سرشاره اوبو له پاسه باید په دایمي او مضبوط ډول درې پلونه جوړ او وساتل شي:

**الف – د داسې یو هېواد درلودل چې له هر اړخه خپلواک او له هر ډول بهرنیو مداخلاتو خلاص وي.**

ددې کار لپاره قربانۍ او ضمانت ته اړتیا ده، په ملي سطحه مونږ هره ورځ قرباني ورکوو مګر ددې لپاره چې د سیمې د جګړې په ډګر بدل نشو بین المللي ضمانت ته اړتیا ده.

## ب – مردم سالاري يا د خلکو حاکميت:

الفستون هم په 1815 کال يادونه کړې وه چې افغانستان په دوه ډوله اداره کېداى شي يا مطلقه ديکتاتوري يا مطلقه مردم سالاري نو



مونږ د مردم سالارۍ د اصل تطبيق ته ژمن يو.



## ج – ملي يووالى:

تش شعار ندى بلکې دد چارې لپاره مونږ داسې اساسي قانون لرو چې د اسلام سره د مطابقت وياړ لري او مثل هم نلري.

په افغانستان کې د شيعه او سني روابط بې مثاله دي چې د دې هر څه ساتل زمونږ لپاره يوه اړينه نقطه ده.

اوس ددې فرصت وخت دی چې افغانستان بې طرفه پاتې شي او هغه هم مثبته بې طرفي، نه غواړو چې د نورو د مبارزې او جګړې میدان و اوسو.

له ګاونډیو سره مو باید اړیکې تعریف شي او بالخصوص هغه هېوادونه چې د شورشي جریاناتو غیږ ته پناه وړي، باید ښکاره ژمنه وکړي او له پناه ورکولو لاس واخلي.

تر اوسه مو هیڅکله د چا په داخلي چارو کې مداخله نده کړې نو نور باید هم له غیر قانوني مداخلاتو لاس واخلي.





## د پُل ابعاد او اړخونه

## د سولې د پل لمړی اړخ



**اول – د اهدافو د لاسته راوړلو په موخه سیاسي اجماع ته اړتیا ده چې د د یادو اهدافو د ترلاسه کولو په موخه بین المللي ټولنې او سیمې هېوادونو هم موافقه کړې ده، دغه اجماع باید له لاسه ورنکړو.**

**دوهم** – په اوربند توافق او له اوربند څخه بین المللي نظارت شتون.

**دریم** – د سولې د حکومت پر اصولو توافق چې پر اساس یې وظایف تعیین شي.

**څلورم** – د سیمه ایز تضمین ترلاسه کول چې باید یو د بل په چارو کې مداخله ونشي.



**پنځم** – کومې موافقې ته چې رسو باید د افغانستان په لویه جرګه کې پرې بحث وشي.

# د سولې د پُل دوهم اړخ (کړنې او د تضمین موارد)

**اول** - د یو سولییز حکومت رامینځته کېدل البته د ټاکنو له لارې.

**دوهم** – په یاد حکومت کې باید پورته ذکر شوي ټول اهداف ځای په ځای شي.

**دریم** – د نظام دوام باید شتون ولري او انقطاع ونلري څکه تجربه شوېده.



**څلورم** – د سولې په رامینځته کېدو سره به

د ابو د مهارولو او مدیریت چارې نه درېږي.

**پنځم** – د بین المللي ټولنې سره به زمونږ کړي

اقتصادي توافقات او تعاهدات په خپل ځای ساتل کېږي.

**شپږم** - اساسي قانون پرته د بهرنيو سياسيونو د شتون څخه د ملي مخورو او علماؤ لخوا رامينځته شوی او تاييد شوی دی او له اسلام سره ټکر نلري.




**اوم** - اساسي قانون اتيا سلنه د تعديل وړ دی، شل فيصده چې د تعديل وړ ندی هغه دوه شيان دي: يو ماهيت د نظام چې نظام بايد اسلامي جمهوري وي او دوهم د وګړو اساسي حقوق.

**اتم** - د حکومت د بڼې تغيير او څرنګوالی په ملت پورې اړه لري او د اصولو په نظر کې نيولو سره به کېږي نه فرمايشي.

نهم - د سیاسي هوکړې لپاره باید سیاسیون سره کښېني او هوکړې ته ورسېږي.

چې اساسي شرط یې په راتلونکي کې یو د بل منل، د فقیرې طبقې لاس نیوی، د ځوانانو لپاره کار پیدا کول او د هېواد بنځو ته توجه ده.




لسم - مهاجرینو د بېرته راستنېدو لپاره باید کار وشي ځکه د دوي دریم نسل د افغانستان سره ځانګړې مینه لري که و نه پالل شي دوي پردي کېږي.



# د سولې حکومت دوام

دا دوره به د انتخاباتو په کولو سره پايي ته رسېږي او انتخاباتو ته به يوه کمېټه ټاکل کېږي او ټول لوري به يې د شفافيت او روڼتيا هڅه کوي.

پرته له ټاکنو تضادونه لا زياتېږي او هيڅوک هم خپل اقتدار نشي ليدلی او هر څوک به د ټاکنو له لارې ځان د ملت په هنداره کې وګوري او منتخب دولت به رامينځ ته شي.





# وړاندیزونه



1. ولسمشر د ستونزې یو مشخص لوری دی نو باید یاده طرحه د یو دریم ګړي له خوا معرفي شوې وی.
2. تاکید باید په خپله طرح ونشي بلکې باید د سیاسیونو او عوامو په نظر کار وشي.
3. مقابل لوري ته باید ګواښ ونشي او د بل کس په واسطه باید هغوي متوجه کړل شي.(که مخالف فرصت له لاسه ورکړي نو د دوي په اړه تصمیم به لویه جرګه بیا نیسي).
4. د موجوده نظام د لا پیاوړتیا په موخه باید د افغانستان د مخورو او بانفوذه خلکو ملاتړ تر لاسه کړل شي.
5. د قوانین په تغییر او د لاسته راوړنو په ساتلو باید بحث او تاکید ونشي ځکه دا د ملت کار دی او ملت دا غږ خپله پورته کولی شي.
6. ددې پرځای باید د ملت په ویښتیا او هڅولو کار وشي تر څو له دولت سره څنګ په څنګ ودریږي او دولت د قدرت تر څنګ د ټولنیز قوي ملاتړه برخمن شي.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

# له توجه مو مننه

د سوکاله،خپلواک او یو موټي افغانستان په هیله

کشر وروز مو محمدعالم صافی د ټولنپوهنې خانګې استاد